SHTAMANAI
شتمنی
اوونیزه




امارت اسلامی افغانستان

**د خصوصي سکتور ستونزو ته د رسېدني په موخه ګډه کمېټه جوړېږي**

۱۵. د ماليې وزارت او د خصوصي سکتور څلور خوني مکلفي دي، ترڅو د دواړو لوريو ترمنځ د ستونزو د دايمي حل لپاره يوه ګډه دايمي کاري کمېټه رامنځته کړي او د خصوصي سکتور په مالياتي او ګمرکي ستونزو بحث وکړي او د نه حل کېدو په صورت کي يادي ستونزي له مشرانو سره شريکي کړي.


چهارشنبه | د ذولقعده الحرام ۱۱-۱۴۴۴ / د غبرګولی ۱۰-۱۴۰۲ / د مي ۳۱-۲۰۲۳ / لومړی کال / ۵۱ ګڼه / ۴ مخیز




## الحاج ملا محمد ناصر اخند د ماليې وزارت د سرپرست په توګه وګمارل سو

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د حکم پر بنسټ د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو مخکنی مرستيال ښاغلی الحاج ملا محمد ناصر اخند د ماليې وزارت د سرپرست په توګه وټاکل سو. الحاج ملا محمد ناصر اخند له فتحي څخه مخکي د مالي او اقتصادي کمېسيون د معاون په توګه دنده ترسره کوله او د اسلامي امارت له بيا څلي حاکميت څخه وروسته نږدې له دوو کلنو راهيسي د ماليې وزارت د عوايدو او ګمرکونو د مرستيال په توګه پاته سوی او په دې برخه کي ښې لاسته راوړني لري. الحاج ملا محمد ناصر اخند د افغانستان د مالي چارو په برخه کي د ښې تجربې لرونکی دی او په تاکل کېدو سره به ئې د افغانستان په مالي نظام کي مثبت بدلونونه راسي. نوموړی په ۷/۳/۱۴۰۲ نېټه د اميرالمؤمنين حفظه الله لخوا د ماليې وزارت د سرپرست وزير په توګه وګمارل سو. همداراز د امير المؤمنين حفظه الله لخوا د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معينيت مخکنی معين ملا عبدالقاهر ادريس، د ماليې وزارت د عوائدو او ګمرکونو معينيت د معين په توګه او د افغانستان بانک دوهم مرستيال حاجي عبدالقدير احمد، د ماليې وزارت د مالي چارو معينيت د معين په توګه وټاکل سول.

## د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست مشرتابه د افغانستان بانک د مالي استخباراتو څانګي له مسؤلينو سره وکتل



د ماليې وزارت د عوايدو لوی رئيس الحاج شير محمد مشفق، عملياتي مرستيال معراج محمد معراج، تخنيکي مرستيال عبدالولي نوري، د حقوقي خدمتونو رئيس ندا محمد صديقي او د عوايدو لوی رياست د سيستمونو رئيس محمد جلال احمدزی او د ګمرکونو لوی رياست د استازو په حضور کي د افغانستان بانک د مالي استخباراتو د څانګي له پلاوي سره د افغانستان د معاملاتو او مالي راپورونو د تحليل مرکز (د مالي استخباراتو څانګه) لوی رئيس جمال ناصر په مشرۍ د ګمرکونو او عوايدو معينيت د غونډو په تالار کي وکتل.

په دې ناسته کي د تورو پيسو سپينولو د مخنيوي، يو شمېر هغه شرکتونه چي غواړي توري پيسې سپيني کړي، په ګمرکونو کي له هوايي او ځمکنۍ لاري د بهرنيو اسعارو (په ځانګړې توګه امريکايي ډالر) د قاچاق کېدو او په ټوله کي د عوايدو او ګمرکونو او د افغانستان بانک د مالي استخباراتو واحد او ټولو دخيلو ادارو ترمنځ د ښې همغږۍ را منځته کولو په اړه لومړنۍ ناسته او هر اړخيزي خبري وسوې. په پای کي پرېکړه وسوه، چي د پورتنيو موضوعاتو د کنټرول په موخه به د افغانستان بانک د مالي استخباراتو واحد يوه ټوليزه طرحه جوړوي او د ماليې وزارت د عوايدو او ګمرکونو په ګډون به ئې له ټولو دخيلو ادارو سره شريکوي، چي هغوی هم خپل نظرونه او وړانديزونه پکي شامل کړي.

## اخذ فورم انتقال اموال از کابل به تمام ولايات لغو گرديد



بر اساس پيشنهاد رياست عمومی گمرکات و منظوری مقام وزارت ماليه، جهت ايجاد سهولت برای تجار اخذ فورم انتقال اموال از پايتخت (کابل) به تمام ولايات کشور لغو اعلام شد. پيش از اين، تاجران مکلف بودند که برای انتقال اموال خويش از کابل به ساير ولايات اين فورم خاص انتقال را اخذ نمايند و در صورت نبود اين فورم، مراقبت سيار و ساير ادارات ذيربط اجازه انتقال اموال تجار را نمی دادند که اين کار مشکلاتی را برای تجار ايجاد کرده بود. قابل ذکر است که رياست عمومی گمرکات به منظور ايجاد تسهيلات برای تجار، پيش از اين اخذ فورم انتقال را بالای تمام مواد به استثنای مواد نفتی در گمرکات بلخ، آقينه و قندز لغو کرده بود و همچنان بالای ميوه های تازه، سبزيجات، تايرها و بادام آمريکايی، اخذ فورم انتقال نيز لغو گرديده است.

## په قسطونو سره د تېرو کلونو د باقياتو ورکولو خبرتيا!

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د رهبرۍ د پرېکړي له مخي ټول هغه سوداګريز شرکتونه، چي د تېرو کلونو ګمرکي باقيات لري او تر اوسه يې نه دي تحويل کړي، کولای سي د ګمرکونو لوی رياست او يا هم ولايتي ګمرکونو ته عرض پاڼه وړاندي کړي او خپل باقيات په خو قسطونو کي د روان ۱۴۰۲ مالي کال تر پايه پوري ورکړي. د ګمرکونو لوی رياست له دغو شرکتونو څخه غوښتنه کوي، چي له دې استثنايي فرصت څخه ګټه واخلي او خپل باقيات په ټاکلي موده کي تصفيه کړي.



## سرمقاله

# همکاری امارت اسلامی با سکتور خصوصی

پرداختن ماليات يکی از مهم ترين عناصر در رشد و توسعه جامعه است، نقش ماليات در توسعه اقتصادی و اجتماعی کشورها نقشی بسيار تعيين کننده را دارا می باشد. ولی بعضی اوقات افراد در پرداخت ماليات به چالش هايی مواجه می شوند. امارت اسلامی افغانستان برای اينکه سکتور های خصوصی به چالش رو به رو نشوند به وزارت ماليه مسئوليت داد تا زمينه را برای شهروندان که ماليه ميدهند فراهم نمايند. از آنجايکه وزارت ماليه به عنوان متولی امور در پيشبرد عوايد کشور می باشد اين را مسئوليت خود ميداند که تسهيلات مالياتی را فراهم نمايند تا سکتور های خصوصی به چالش مواجه نشوند. ما به گونه مثال گفته ميتوانيم که در اين چند روز اخر اخذ فورم انتقال اموال از پايتخت (کابل) به تمام ولايات کشور لغو اعلام شد که اين کار مشکلاتی را برای تجار کم ميکند اما سهولت بيشتر. ازطرفی رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه، برای شرکت های تجاری که در سال های گذشته دارای باقيات گمرکی بوده و تا بحال آن را تحويل نکرده اند با آنها به شکل قسطوار معامله می کنند. سکتور خصوصی و تجاران اين همکاری وزارت ماليه را ناديده نگيرند همکاری ها بايد دوجانبه باشد، زيرا دولت ها از اخذ ماليات از جامعه اهداف متعدد و عمده‌ای را دنبال می کنند. در واقع شهروندان با پرداخت بخشی از درآمد خود به دولت کمك می کند و در قالب ماليات به دولت اختيار می دهند تا برای اداره امور کشور، اجرای سياست‌های مالی، تامين کالاها و خدمات عمومی و ضروری، تضمين امنيت، اجرای برنامه های توسعه يی و عمرانی کشور، از آن استفاده کند. به همين ملحوظ شهروندان در راستای پرداخت ماليات شان در وقت و زمان معين با اين وزارت نيز همکاری نمايد.

**با احترام**

**اداره**



د غلام خان په سرحدي ګمرک کي د يو ټن انساني ويښتانو له قاچاق څخه مخنيوی وسو


۲




رهبری رياست عمومی عوايد وزارت ماليه با مسئولين اداره ملی حفاظت محيط زيست ديدار نمود


۲




د افغانستان لاس د بې اسنادو (يو کيلي) موټرو د ثبت او محصول پروسه په چټکۍ سره روانه ده


۲




د ولايتي ګمرکونو د فعاليتونو د ارزونې په موخه تخنيکي ناسته وسوه


۳




د ډنډپټان او غلام خان په سرحدي ګمرکونو کي د قيمت ګذارۍ ماډيول پلی سو


۲




انډوليزه اسلامي بانکداري او د ټولني اړتيا


۳

SHTAMANAI
اوونیزه



## د افغانستان لاس د بې اسنادو (یو کیلي) موټرو د ثبت او محصول پروسه په چټکۍ سره روانه ده



د افغانستان لاس د بې اسنادو (یو کیلي) موټرو د ثبت او محصول پروسه چې د ا.ا.ا د کابینې له لوري د روان ۱۴۰۲ هـ.ل کال تر پایه تمدید سوې ده، پراوونه یې د (کابل، هرات، بلخ، ننګرهار، کندهار، کندوز، خوست/پکتیا) په ګمرکونو کې په چټکۍ سره روانه ده. د یادو وسایطو د پراوونو په تر سره کولو کې د چټکتیا په موخه واحد کاري مرکزونه جوړ سوي، چې ټول پراوونه یې د یو چتر لاندې تر سره کیږي. د یو کیلي موټرو د ثبت او محصول په کړنلاره کې د خلکو اقتصادي حالات په پام کې نیول سوی او په داسي لارو چارو فکر سوی چې د بې اسنادو موټرو مالکین وکولای سي خپلو موټرو ته اسناد واخلي. د بې اسنادو موټرو په محصول کې په لویه سلنه تخفیف ورکړل سوی چې په لاندې ډول دی:

له ۱۹۹۰ څخه تر ۲۰۰۰ ماډل موټرو ته ۶۰ سلنه تخفیف.

له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۰۹ ماډل موټرو ته ۵۰ سلنه تخفیف.

له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۲ ماډل موټرو ته ۲۵ سلنه تخفیف.

د افغانستان لاس بې اسناده موټرو له مالکینو څخه یو ځل بیا غوښتنه کیږي، چې له دې استثنایي فرصت څخه ګټه واخلي او خپلو موټرو ته قانوني سندونه جوړ کړي، د نه مراجعې په صورت کې یې د ټاکل سوې کمېټې له لوري په ښارونو، ترمینلونو، لویو لارو، هدېو او واټونو کې فعالیت بند او وسایط یې درول کیږي بیا هیڅ د شکایت حق نلري.

د نورو معلوماتو لپاره کولای سئ له ۲۲۱ شمېرې سره اړیکه ونیسئ.

## د غلام خان په سرحدي ګمرک کي د یو ټن انساني ویښتانو له قاچاق څخه مخنیوی وسو





د غلام خان سرحدي ګمرک د محمولو د چک او پلټني اړوندو مسؤلینو د څه باندې یو ټن انساني ویښتانو له قاچاق څخه مخنیوی وکړ. یاد ویښتان په هینو ډوله موټر کې د ډبرو سکرو لاندې، په ډېر مهارت سره ځای پرځای سوي وه او غوښتل ئې د غلام خان سرحدي ګمرک له لاري ئې پاکستان هیواد ته قاچاق کړي. د یادوني وړ ده، چې د ا.ا.ا د رهبرۍ د هدایت له مخي د انساني ویښتانو کار و بار په مطلق ډول بند دئ او چاته اجازه نه ورکول کیږي، چې ویښتان له هیواد څخه صادر او یا ئې وارد کړي.

## د ډنډپټان او غلام خان په سرحدي ګمرکونو کي د قیمت ګذارۍ ماډیول پلی سو



د ګمرکونو لوی ریاست د کاري بهیر د چټکتیا او سوداګرو ته د لا اسانتیا رامنځته کولو په موخه د ډنډپټان او غلام خان په سرحدي ګمرکونو کي د قیمت ګذارۍ ماډیول پلی کړ. د دې ماډیول په پلي کېدو سره سوداګر کولای سي له خپل کار ځای او یا هم له هیواد څخه بهر د خپل یوزر له لاري د (اسیکوډا) په سیستم کي د نوي ټي اس سي (TSC) کوډ د غوښتلو فورمه ثبت کړي. له دې وړاندي به سوداګرو د نوي ټي اس سي (TSC) کوډ د غوښتلو لپاره اړونده فورمه قلمي ډکوله او په فزیکي ډول به ئې مربوطه ګمرك ته سپارله، چې پړاوونو ئې څو ورځې نیولې. باید ووایو، چې د دغه ماډیول په پلي کېدو سره اوس مهال د نوي (ټي اس سي) کوډ غوښتنه د سیستم له لاري په څو دقیقو کي تر سره کیږي او ګڼي اسانتیاوي ئې رامنځته کړي دي.

## برنامه آموزشی آشنا سازی و مدیریتی برای کارمندان ریاست عمومی عواید دایر

ریاست منابع بشری وزارت مالیه برنامه آموزشی آشنا سازی و مدیریتی را برای کارمندان جدید التقرر ریاست عمومی عواید طی مراسمی دایر نمود. در این مراسم که در تالاراحمد شاه ابدالی اکادمی ملی گمرکات برگزار گردیده بود، الحاج مولوی شیر محمد مشفق، رئیس عمومی عواید، مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری، بلال احمد احدی، آمر اکادمی ملی گمرکات، محمد انس مجاهد، آمر آموزش و ارتقای ظرفیت منابع بشری و شماری از کارمندان جدید التقرر اشتراک داشتند. مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری در سخنان افتتاحیه این برنامه در مورد وظایف و مسئولیت های فردی و جمعی در یک نظام اسلامی معلومات داده افزود، هر کس به اندازه پست و مقام که دارد، در برابر مردم و خداوند متعال پاسخگو می باشد، پس با استفاده از این فرصت مهیا شده آگاهی خود را بالا برده، مسئولیت دینی و وظیفوی خود را با صداقت، ایمان داری و اخلاص انجام دهید.

الحاج مولوی شیر محمد مشفق، رئیس عمومی عواید ضمن کامیابی در امور محوله به اشتراک کنندگان گفت، همانطور که اعضا و جوارح انسان یک امانت است که باید به شیوه درست از آن استفاده شود، وظیفه و مسئولیت حکومت نیز امانتی است که غفلت در آن خیانت بوده و عواقب ناگوار در پی خواهد داشت. وی از اشتراک کنندگان خواست تا از فرصت ها و امکانات مهیا شده استفاده اعظمی نموده مصدر خدمت به ملت مسلمان شده و رضایت خداوند متعال را کسب کنند.

محمد انس مجاهد، آمر آموزش و ارتقای ظرفیت منابع بشری در مورد برنامه آموزشی معلومات ارائه نموده و با دعاییه این مراسم اختتام یافت.

قابل ذکر است که در این برنامه آموزشی سه روزه (۸-۱۱ جوزای سال جاری) آشنا سازی با وزارت مالیه، اساسات مدیریت و رهبری و طرز سلوک به اشتراک کنندگان تدریس خواهد شد.



## رهبری ریاست عمومی عواید وزارت مالیه با مسئولین اداره ملی حفاظت محیط زیست دیدار نمود



الحاج شیر محمد مشفق رئیس عمومی عواید وزارت مالیه در حضورداشت امان الله امین رئیس عواید غیرمالیاتی و آمرین ذیربط عواید با حافظ عزیزالرحمن رئیس عمومی و دیگر مسئولین ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست جهت افزایش عواید و جلوگیری از ضایعات آن دیدار نمود. در این دیدار فیصله گردید که تیم تخنیکی مشترک از جانبین تشکیل گردد و در ترتیب پروپوزل تطبیق طرح افزایش عواید، تشخیص و رفع ساحات ضیاع عواید و معیاری سازی اسناد بهادار ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست همکاری نمایند.

## په هیواد کي د کرني سکټور د لا پرمختګ په موخه د پاکستاني تراکټورونو ګمرکي محصول د پام وړ کم سو



د ګمرکونو لوی ریاست په وړاندیز او د مالیې وزارت مقام په منظوري په هیواد کي د کرني سکټور د ملاتړ او لا پرمختګ، د بزګرانو د هڅوني او په سوداګرۍ کي د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د پاکستاني تراکټورونو د وارداتو ګمرکي محصول د پام وړ راکم سو.

## د غلام خان سرحدي ګمرک کارکوونکو ته د ګمرکي مسایلو په اړه روزنیز ورکشاپ پیل سو




د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د تدریسي پلان له مخي د غلام خان سرحدي ګمرك یو شمېر نویو ګمارل سوو کارکوونکو ته (۱۰) ورځنی روزنیز ورکشاپ په یاد ګمرك کي پیل سو. په دې روزنیز ورکشاپ کي به یادو کارکوونکو ته د ګمرکونو قانون په عمومي احکامو، تعرفې، قیمت ګذارۍ، ټرانزیټ، ګمرکي ارزښت ټاکني، ګمرکي سرغړونو، د تلاشۍ او پلټني مهارتونو او نورو ګمرکي مسایلو په اړه عملي او نظري روزنه ورکړل سي.

شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

# انډولیزه اسلامي بانکداري او د ټولني اړتیا

مفتي زبیر احمد أیوبي



اسلامي بانکداري باندي د نړۍ ګڼ شمېراقتصاد پوهانو، مفتیانو، لیکني کړي؛ کتابونه او مقالې یې لیکلي دي او اوس هم دالړۍ روانه ده، ځکه دا موضوع ډېره پراخه اوعملي اړخونه یې ډېر ژور دي، چي د نوي عصر د تقاضا سره سم نوي نوښتونه هم رامینځته کېږي. البته روانه لیکنه پر دې محور را څرخي، چي افغانان د اسلامي بانکداري سره څومره لیوالتیا او اړتیا لري او د هغوی اړتیا څومره ده او څرنګه باید پوره سي؟ په دې کي شک نسته چي د یوې ټولني او وطن د اقتصادي پرمختګ لپاره بانکونه یو اساسي او مهم رول لري. د یو معیاري تجارت، متوازن پرمختللی اقتصاد او د شتمني د خوندیتابه او انتقال لپاره د بانکونو رول له پامه نه شي غورځېدای، ځکه چي همدغه بانکونه د ملت د هوساینې لپاره خدمات وړاندي کوي او د خلګو شتمني خوندي ساتي او بیا د هغې د ودې لپاره ګڼ پروګرامونه پرمخ بيايي او د هغې شتمني څخه په استفادې صحي، تعلیمي، پراختیایي او دې ته ورته نورخدمات د ټولني د غوښتني او تقاضا سره سم وړاندي کوي او بانکي سیستم د اسعارو د متوازن خوځښت لپاره هم یوضامن چاپیریال دی. دا چي افغانستان د نړۍ پر کرې باندي یو د هغو هیوادونو څخه دی چي د پراخ، سیاسي، اقتصادي، تجارتي، جغرافیایي موقیعت لرونکی دی او د (آسیا زړه) لقب خو لا درمخه د شاعرانو په شعرونو کي تر سترګو کیږي، همدا لامل دی چي افغانستان تل د زبرځواکو هیوادونو د زور آزمایني مرکز ګرځېدلی دی، د سیمه ایزو او نړیوالو استخباراتو د شومو اهدافو قرباني سوی دی، چي د هغوی د جګړو او شخړو په پایله کي نه یوازي دا چي دې ملت ډېر سخت او بې ساري کړاوونه لیدلي دي، بلکي د دې وطن هرڅه یې له مینځه وړي دي، ټولي برخي یې ویجاړې سوي او په څنګ کي یې اقتصاد تخریب سوی او ټوله اقتصادي بنسټونه یې د خاورو سره خاوري سوي. دا یو حقیقت دی چي داسي ویجاړسوی هیواد یو پیاوړي او اساسي اقتصاد ته پوره اړتیا لري او د یو پیاوړي اقتصاد لپاره اړینه ده چي د ټولو اقتصادي نهادونو سره په همږغۍ د ملي عوایدو، صادراتو، وارداتو او تجارت لپاره یوه متوازنه اقتصادپالنه لاره ولټوو، شته خنډونه لیري او ستونزي حل کړو. په اوسني عصر کي یو هیواد نسي کولای چي په یوازي سر په خپلو داخلي عوایدو خپلي بنسټیزي او انکشافي پروژې پر مخ بوځي او خپلو اساسي اهدافو او موخو ته ورسېږي. دا چي افغانستان د کم ودي هیوادونو په قطار کي راځي، نو قانوني حق لري، چي د خپلو پروژو لپاره خارجي مرستي ترلاسه کړي او خپلي پروژې بشپړ کړي . د اسلامي او ملي نظام په راتګ سره که څه هم کفري نړۍ او کفرپاله تش په نامه اسلامي نړۍ خپلي مرستي ودرولې او د افغانانو په تجارت او اقتصادي چارو باندي یې بندیزونه ولګول، خو بیا یې هم داسي اقتصادي پرمختیایي او ټولګټي تاسیسات ورغول او په ټولیزه توګه یې کاروبار ته څرخ ورکړی چي لویدیځ پاله مفکرین او خواخوږي یې حیران کړل. اسلامي نظام نه یوازي دا بلکي په نورو برخو کي یې هم لکه د بندونو، پلونو، سړکونو او کانالونوجوړولو، د ښارونو تنظیمولو، د سوداګرۍ پراختیا، پانګوني ته د زمینه سازۍ، له کانونو څخه په معیاري توګه د سمي ګټې اخستني، له پانګوالو او سوداګرو څخه د ملاتړ او د هیواد له سرحدونو څخه د دفاع چارو اونورو برخوته پاملرنه کړې ده او که په دې اړه ستونزي شتون ولري، نو د حل لپاره یې هڅي کوي. له دې چارو سره بیا د کار موندني مسئله، د اقتصاد او سوداګرۍ د غوړیدا، د کرني او مالداري د ودي او له امله یې وګړو ته په ژوند کي د اسانتیاوو د ایجاد همدارنګه د نورو بنسټیزو پروژو د تکمیل لپاره هڅي هغه څه دي، چي موږ یې شاهدان یوو. نو د اوسني نظام د سترو مسئولیتونو څخه یو ستر مسئولیت دا دی چي د بانکونو لپاره یوه پیاوړې د عمل وړ پراخه هر اړخیزه اسلامي طرحه جوړه کړي او په دې اړه د نړۍ د اسلامي اقتصادپوهانو څخه مشوره واخلي ،که څه هم د اسلامي نړۍ اقتصاد پوهان او مفتیان د اسلامي بانکداري په اړه یونظر نه دي خو البته افغانستان کي اوس یو داسي محیط رامینځته سوی دی چي د بشپړې اسلامي بانکداري لپاره شرایط مساعد دي او د اسلامي نړۍ هغه مفتیان او اقتصاد پوهان چي پر اسلامي بانکداري باندي اعتراضات لري یا د اسلامي بانکداري پر تنفیذ باندي شکمن دي، ممکن چي د افغانستان په سالم محیط کي په شته امکاناتو سره او د یوه جامع پلان او پالیسي په ترڅ کي د رامینځته کېدونکي اسلامي بانکداري سره به د دوی اعتراضات حل سي، ځکه واکدار نظام د یو بشپړ اسلامي بانکداري لپاره د خپل واک په ترڅ کي هغه ستونزي او لاملونه لیري کولای سي، چي د اسلامي بانکداري لپاره خنډ وي. اوس چي د ځینو مفتیانو او پوهانو دا نظر دی چي د اوسني عصر اسلامي بانکداري په اوسني شکل او صورت کي بالکل صحیح او د شریعت سره موافقه ده دا نظر د منلو وړ نه دی همدارنګه هغه مفتیان یاپوهان چي وایي د اسلامي بانکداري امکان ناشوني دي، هغوی هم اشتباه دي په راتلونکو دوامداره لیکنو کي به ان شاالله د دواړو لورو اندونه، دلایل، وجوهات، وړاندي سي او ورسره سم به د افغانستان لپاره د یو بشپړ اسلامي بانکداري لپاره یو فارمول، طرحه وړاندي سي او د دواړو لورو اعتراضاتو ته به د قناعت وړ جواب ورکول سي.


## به اعلان سپردن یک قطعه زمین دولتی واقع ولسوالی چهار آسیاب

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جایداد دولتی ذیل را بشکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره میدهد.

۱ موازی (۷۸۰) متر مربع بشمول تعمیر مخروبه آن واقع بازار ولسوالی چهار آسیاب

در صورتیکه اشخاص، موسسات و شرکتهای محترم واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر را داشته باشند درخواستی های خویش را به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینمای پامیر سپرده بعد از نشر اعلان الی (١٤) روز مراجعه شرطنامه را ملاحظ نموده مبلغ (۲۰۰۰) هزار افغانی پول حق الاشتراک بدون بازگشت را پرداخت نمایند


## د ولایتي ګمرکونو د فعالیتونو د ارزوني په موخه تخنیکي ناسته وسوه

د ګمرکونو لوی رئیس مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ، د ۱۴۰۲ مالي کال د وري په میاشت کي د ګمرکونو د وضعیت ارزوني په موخه تخنیکي ناسته د ګمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کي د ویډیو کنفرانس له لاري وسوه. په دې ناسته کي چي د ګمرکونو لوی ریاست مرستیالانو، یو شمېر رئیسانو او د ولایتي ګمرکونو مسؤلینو ګډون درلود، په پیل کي د ګمرکونو لوی رئیس ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ سوداګرو ته د لا اسانتیا د برابرولو، په اړوندو چارو کي د ښې همغږۍ رامنځته کولو، ورسپارل سویو دندو کي د مسؤلینو د لا ښه دقت او ځینو نورو برخو کي د ولایتي ګمرکونو مسؤلینو ته لازمي سپارښني او هدایات ورکړل. له اجنډاء سره سم د ګمرکونو لوی ریاست د پلان جوړوني، پالیسۍ، څارني او ارزوني رئیس محمد وسیم عثمان له لوري د روان مالي کال د وري په میاشت کي په ګمرکونو کي د تر سره سویو فعالیتونو په تړاو ټولیز راپور وړاندې سو او همدا راز په دې میاشت کي د عوایدو راټولېدو، د هیواد په ټولو ګمرکونو کي تر سره سوې سوداګرۍ، د وارداتي توکو ګمرکي ارزښت او د سوداګریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه غونډي ته بشپړ معلومات وړاندي کړل.



د غونډي ګډونوالو د دغه راپور په اړه هر اړخیز بحث وکړ او د چارو د لا ښه والي لپاره یې د ولایتي ګمرکونو مسؤلینو ته لازمي سلا مشورې هم ورکړې. د ولایتي ګمرکونو مسؤلینو هم په خپل وار سره په خپلو اړوندو کاري برخو کي د شته ستونزو یادونه وکړه او د هغو ستونزو د ژر حل کېدو ډاډ یې ورکړ چي د وري میاشتي په ارزونه کي په ګوته سوي وې. د یادوني وړ ده چي د ګمرکونو لوی ریاست په میاشتني، ربعوار او کلني ډول د ټولو ګمرکونو تخنیکي ارزونه کوي څو شته ستونزو ته رسېدنه وسي.

## د ګمرکونو لوی ریاست د روان کال څلورمه اداري ناسته تر سره سوه

د ګمرکونو لوی رئیس مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د ګمرکونو لوی ریاست د روان ۱۴۰۲ کال څلورمه اداري ناسته د یاد ریاست په مقام کي ترسره سوه. په دې ناسته کې د ګمرکونو تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر امرینو ګډون کړی وو. له اجنډاء سره سم په دې ناسته کي د سوداګریزو توکو د صادراتو، وارداتو او ټرانزیټ په برخو کي د سوداګرو د شته ستونزو او حل لارو، د ګمرکونو لوی ریاست د اړوندو ورځنیو چارو د لا ښه والي، د ابونصر فراهي په ګمرک کي د سوداګریزو شرکتونو د یوزرونو د ستونزو په حل لارو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه هر اړخیزي خبري وسوې او په اړه یې لازمي پریکړې ونیول سوې.



# شتمنۍ SHTAMANAI
اوونیزه

د امتیاز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: حبيب الله حُبيب
د كتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبپاڼه: mof.gov.a
ټویټر: @ afghanistanmof
یوټیوب: afghanistan moḟ
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)




وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آگاهی عامه

## محصول گمرکی تراکتور های پاکستانی به منظور پیشرفت و توسعه سکتور زراعت در کشور بطور قابل ملاحظه کاهش یافت

| شماره | نوعیت جنس | سلندر | محصول گمرکی قبلی به افغانی | محصول گمرکی فعلی به افغانی |
|---|---|---|---|---|
| 1 | تراکتور 4 سلندره HP-85 مادل 2023 بنام MT385 ساخت پاکستان | 4 | 81258 | 57159 |
| 2 | تراکتور زراعتی به مشخصات CAMEL چهارسلندره مادل 2022 HP-85 فی واحد از پاکستان | 4 | 81258 | 54810 |
| 3 | تراکتور بنام ملت 4 سلندره مادل 2022 HP-85 ساخت کشور پاکستان | 4 | 81258 | 54810 |
| 4 | تراکتور پاکستانی MF385 مادل 2021 4 سلندر85 هارسپاور فی واحد ازپاکستان | 4 | 78909 | 50895 |
| 5 | تراکتور بنام MT385 چهار سلندره 85 هارس پاور مادل 2020 فی واحد از پاکستان | 4 | 69252 | 50895 |
| 6 | تراکتور بنام MT375 چهارسلندره 75 هارسپاور مادل 2020 فی واحد از پاکستان | 4 | 67947 | 39498 |
| 7 | تراکتور بنام MF385 چهارسلندره 85HP مادل 2019 فی واحد از پاکستان | 4 | 85347 | 46197 |
| 8 | تراکتور بنام NH- 640S- HP85 چهار سلندره مادل 2018 فی واحد از پاکستان | 4 | 82998 | 46197 |
| 9 | تراکتور بنام NH- 640S- HP75 چهار سلندره مادل 2018 فی واحد از پاکستان | 4 | 79866 | 41499 |
| 10 | تراکتور زراعتی سه سلندره به مشخصات MT 240 مودل 2023 50 هارسپاور فی واحد از پاکستان | 3 | 54810 | 41499 |
| 11 | تراکتور زراعتی 240 سه سلندره 50HP مودل 2022 فی واحد از پاکستان | 3 | 54810 | 37932 |
| 12 | تراکتور زراعتی CAMEL به مشخصات سه سلندره مودل2022 HP-50 فی واحد از پاکستان | 3 | 54810 | 39150 |
| 13 | تراکتور بنام NH FIA GHAZI سه سلندره 65HP مادل 2022 فی واحد از پاکستان | 3 | 62814 | 46980 |
| 14 | تراکتور بنام NH FIA 480 سه سلندره 55HP مادل 2022 فی واحد از پاکستان | 3 | 58551 | 43848 |
| 15 | تراکتور پاکستانی به مشخصات MF240 مادل 2021 سه سلندر 50 هارسپاور فی واحد ازپاکستان | 3 | 50895 | 37584 |
| 16 | تراکتور پاکستانی به مشخصات MF 260 مادل 2021 سه سلندر 60 هارسپاور فی واحد ازپاکستان | 3 | 58725 | 39933 |
| 17 | تراکتور زراعتی بنام ملت مادل 2021 سه سلندره 50 هارسپاور فی عراده از پاکستان | 3 | 71253 | 37584 |
| 18 | تراکتور بنام MT360 سه سلندره 60 هارسپاور مادل 2020 فی واحد از پاکستان | 3 | 53418 | 37584 |
| 19 | تراکتور بنام MT240 سه سلندره 50 هارسپاور مادل 2020 فی واحد از پاکستان | 3 | 42891 | 35235 |
| 20 | تراکتور بنام MF360 سه سلندره 60HP مادل 2019 فی واحد از پاکستان | 3 | 60291 | 32886 |
| 21 | تراکتور MT375 بنام ملت سه سلندره فی عراده از پاکتنستان مادل 2019 75HP | 3 | 78822 | 34452 |
| 22 | تراکتور MT240 بنام ملت سه سلندره فی عراده از پاکستان مادل 2019 50HP | 3 | 49851 | 31320 |

www.mof.gov.af afghanistanmof

وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آگاهی عامه

## روند ثبت و محصول موترهای بدون اسناد (یک کلید) دست افغانستان به سرعت ادامه دارد

روند ثبت و محصول موترهای بدون اسناد (یک کلید) دست افغانستان که از سوی کابینه ۱.۱.۱- الی پایان سال جاری ۱٤۰۲هـ.ش تمدید گردیده است، طی مراحل آن در گمرکات (کابل، هرات، بلخ، ننگرهار، قندهار، قندز، خوست/پکتیا) به سرعت ادامه دارد.

مراکز واحد کاری به منظور تسریع در طی مراحل وسایط مذکور ایجاد گردیده که تمامی مراحل آن زیر یک چتر انجام می شود.

در طرزالعمل ثبت و محصول موترهای یک کلید، شرایط اقتصادی مردم در نظر گرفته شده و راهکارهایی سنجیده شده است تا مالکین موترهای بدون اسناد بتوانند برای موترهای خویش سند دریافت نمایند. در محصول موترهای بدون اسناد تخفیف داده شده به شکل ذیل می باشد:

۶۰ درصد تخفیف برای موترهای مدل ۱۹۹۰ الی ۲۰۰۰.
۵۰ درصد تخفیف برای موترهای مدل ۲۰۰۱ الی ۲۰۰۹.
۲۵ درصد تخفیف برای موترهای مدل ۲۰۱۰ الی ۲۰۱۲.

از مالکین موترهای بدون اسناد دست افغانستان یک بار دیگر تقاضا می گردد، تا از این فرصت استثنایی استفاده نموده و برای موترهای خویش اسناد قانونی اخذ نمایند، در صورت عدم مراجعه، از سوی کمیته تعیین شده فعالیت و موترهای آنان در شهرها، ترمینل ها، شهراها، هده ها و جاده ها متوقف می شود که در این صورت حق شکایت را ندارند.

**برای معلومات بیشتر میتوانید به شماره ۲۲۱ به تماس شوید.**



www.mof.gov.af afghanistanmof

## Having exit notes of Goods from Kabul to Provinces is Cancelled



In order to provide convenience for traders, the Ministry of Finance has discontinued acquiring exit notes for commodities from Kabul (capital) to all provinces. Previously, traders needed to get this form in order to transfer their goods from Kabul to other areas; otherwise, the mobile care unit and other relevant departments would not allow them to do so, causing complications for the traders. The General Directorate of Customs is attempting to address all trader difficulties in accordance with the law and to provide additional services to them in all customs around the country. It is essential to mention that the General Director of Customs has already canceled obtaining exit notes for any goods other than petroleum products in Balkh, Aqina, and Kunduz customs, and it is currently canceled in all customs across the country for fresh fruits, tires, and American almonds in order to establish facilities for traders.

## Statement for the Payment of the Previous Year's Debt on Installments



The Ministry of Finance's General Directorate of Customs decided that traders and companies with unpaid customs dues could make their payments in installments until the end of FY-1402.
The General Directorate of Customs asks businesses to take advantage of this opportunity and settle their debts by the timeframes specified.
timeframes specified.

د ماليې وزارت
د اړيکو او عامه پوهاوي رياست

## هغه پرمختګونه او نوښتونه چې په ۱۴۰۱ مالي کال کې د ماليې وزارت په ګمرکونو کې تر سره سوي

په تیر نظام کې د اسیکوډا په سیستم کې د فساد او بډو اخیستولو په موخه د اجناسو/ توکو قیمتونه غیر معیاري او لوړ ثبت سوي وو، د سوداګرو په غوښتنه د زرګونو اجناسو قیمتونه د اسیکوډا په سیستم کې اصلاح او حقیقي قیمتونه ثبت سول.

د ترانزیټ په برخه کې رامنځته سوي اسانتیاوې: له مبداء ګمرک څخه تر مقصد ګمرک پوري له ۵ ورځو څخه ۱۰ ورځو ته د بهرني ترانزیټ زماني معیاد زیاتول، د ترانزیټي تضمین د طی مراحلو پروسه را لندول، له منځنی اسیا څخه جنوبي اسیا ته د نفتو او ګازو د ترانزیټ لپاره د اسانتیا برابرول او د افغانستان له ګاونډیو هیوادونو سره د ښو ګمرکي اړيکو ټينګښت

په ګمرکونو کې کاري موده له (۱۶ – ۲۴) ساعته اوږده سوه.

د هیواد په ګمرکونو کې د ترانزیټ په برخه کې اسانتیاوې رامنځته سوې، چې په (۱۴۰۱) مالي کال کې د افغانستان له خاوري (۵۳,۶۷۹) بهرنی ترانزیټي محمولې تېرې سوې، چې د (۱۳۹۹) کال په پرتله (۳۹۶٪) او د (۱۴۰۰) کال په پرتله (۱۳۳٪) زياتوالی ښيي.

د مشرتابه د هدایت پر اساس مالیاتي جرایم معاف سول او د دې حکم له ابلاغ څخه مخکې د مستوفیتونو په امانتي حساب کې جمع سوي جرایمو پیسې، د سوداګریزو شرکتونو له تثبیت وروسته په اصولي بڼه یادو شرکتونو ته مسترد سوې.

له هیواد څخه د ډبرو سکرو په صادراتو کې سوداګرو ته لازمي اسانتیاوې رامنځته سوې.

د هیواد په ټولو ګمرکونو کې ډیجیټلي او انالوګ تلې فعاله او نصب سوې.

د بلخ، آقینې او کندوز ګمرکونو کې د لیږد فورم اخیستل لغوه سو او همدارنګه په تازه میوو، سبزیو، ټیرونو او امریکایي بادامو باندې هم د لیږد فورم لغوه سو.

www.mof.gov.af afghanistanmof

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.